به جهان شهادت است علی ساحت قسیم
تا بر مردم گردد بشید پیامبر صبر و فدا و پاسخ کو ما شهید

چهارصفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۱۸۶) سال نزدهم شماره (۹۲) پنجشنبه (٤) اسد ۱۳۷۵ هـ ش (۱۰) ربیع الاول ۱٤۱۷ هـ ق - (۲۵) جولای ۱۹۹٦ م

بمناسبت احراز مقام صدارت عظمي توسط برادر حکمتیار:

پیام تبریکیه معاون صدراعظم عراق به کابل مواصلت کرد

به مناسبت تعین برادرحکمتیار بحیث صدراعظم کشور پیام تبریك طارق عزیز معاون صدراعظم عراق به کابل مخابره شد.
درین پیام ،معاون صدراعظم عراق ضمن عرض، تبریك به برادر حکمتیار موقف صلح جویانه دولت اسلامي را تقدیرنموده خواستار استقرارصلح وآرامش درافغانستان وتوسعه روابط دوجانبه میان دوکشور (افغانستان - عراق) گردیده است.

طی یك قیام عمومی مجاهدین منطقه

ولسوالی چاربرجك نیمروز از اشغال طالبان آزاد گردید

ملاشیرملنگ قوماندان طالبان به هلاکت رسید

دریك گزارش مخابروي كه از طرف نمایندگی حزب اسلامی درشهر «بیرجند» برای شهادت ارسال شده آمده است که به اثرظلم ،بیداد وبدسلوکی انتظامیه طالبان درولسوالی چاربرجك نیمروز ،مجاهدین این منطقه دست به قیام زدند ودرروز ۳۱ سرطان ولسوالی چاربرجك را آزاد نموده ، ولسوال وشش نفرازهمکاران اورا طی یك درگیری به هلاکت رسانیدند ،درین درگیری ده نفر از افراد طالبان به اسارت مجاهدین درآمده وبقیه افراد طالبان ازین ولسوالی فرار نموده اند.
گزارش علاوه میکند پس از اینکه ولسوالی چاربرجك توسط مجاهدین منطقه آزاد گردید ، ملا شیر ملنگ ،قوماندان طالبان درولایت نیمروز به سرکردگی یك قوه دیگر وبرای واپس گیری ولسوالی چاربرجك حمله نموده که باتلفات شدید رو بروگردیده وقوای طالب ها به شکست مواجه گردید ،طی این جنگ قوماندان شیرملنگ ویك تعداد دیگر طالبان بقتل رسیده وسایر افراد آنها فرارنمودند.
گفته شده که یکتعداد اجساد کشته شده گان طالبان ومقادیر سلاح سبك وسنگین معه دوعراده موتر پك اپ در میدان جنگ باقی مانده است ،ولسوالی چاربرجك فعلاً درتصرف مجاهدین منطقه می باشد ، درین درگیری ها یك اندازه قابل ملاحظه غنایم که شامل مهمات ،مواد تدارکاتی وارتزاقی میشود نیز بدست مجاهدین افتیده است ، شرح غنایمی که دراولین

بقیه درصفحه ۲، ستون ٤

مجمع اصلاحي با صدراعظم ملاقات كرد

کابل - ۳ اسد :
طبق گزارش دفتر مطبوعاتي صدارت عظمي در این ملاقات چندتن ازاعضاي مجمع متذکره صحبت نموده درقسمتي ازسخنان شان گفتند : آرزوي ما اشتراك همه تنظیم هاونهادهادر پروسه تأمین صلح بوده امیدواریم آنهایي که ازین پروسه بدورمانده اند درتأمین صلح وامنیت درکشور بادولت اسلامي همکاري نمایند.

بقیه درصفحه ۲، ستون ٤،

الهی فرمان

یوسف علیه السلام غلامانو ته اشاره وکړه چې « دوی دغلې په بدل کې کوم مال ورکړی دی هغه په پټه ددوی په خټر کی کیږدی، » داکار یوسف علیه السلام په دې خیله وکړ چې هغوی به کورته په ستنیدو سره خپل بیرته کړی شوی مال وپیژنی (یا به بې ددې پیرزوینې احسان سترګی ونیسي)او کیدای شي چې بیا راشي ، کله چې هغوی خپل پلار ته ورغلل نو ویی ویل : «پلاره ! په راتلونکي وخت کې موږ ته غله نه راکوله کیږي ،نو ته زموږ ورور له موږ سره ولیږه تر څو چې موږ غله راواخلو رایی وروو اوډده ساتنه زموږ پر غاړه ده . »
(یوسف : ۶۲-۶۳)

دطالبانو په برید کی دملګروملتونو دیونیسیف اداری دفترونه زیانمن شول

کابل - دزمري ۳ مه :
پرون له غرمې مخکې طالبانو دکابل مرکزي سیمې تسړولو غندونې برید لاندې ونیوې .
له کابل ښارڅخه رارسیدلي رپوټونه وايي طالبانوچې پدې بریدکې دري توغندي استعمال کړل یوتوغندي دکابل په مرکزکي دسړك په غاړه دملګروملتونودیونیسف اداري دودفترترڅنګ ولګیدچې دفترته زیات مالي تاوان وروانیست
په ریپوټ کښې د یونیسف اداري داطلاعاتو دمسئول جرمي هاکلي له خولې ویل شوي چې دابرید مخکې له دغې خلوروورځني اوربند په کابل د ښار چې دتوموري اداري پخواتنیو جهادي ډلوته خبرورکړ شوي و. چې په هیواد کې دواکسناسیون دکمپاین سره دمرستې په اړه پوځلوروورځني اوربند اعلان کړي .

پاتې ۵، مخ ۲، ستون

په کابل کی دایران سفیرغلام رضا «حدادی» دعظمی صدارت له لومړی مرستیال «هلال» سره وکتل

کابل - دزمري ۳ مه :
دصدارت مطبوعاتي دفتر وویل چې دکتني په پیل کې انجنیر«هلال» دهیواد دروان بحران دحل په اړه تفصیلي خبرې وکړې اودجهاد په اوږدوکې ئې دایران داسلامي جمهوریت دهراړخیزو همکاریو ستاینه وکړ «هلال» وویل موږ دځپل

پاتې ۵، مخ ۲، ستون

دمنداکمپ علماوو ، جهادي قوماندانانو اومهاجرینو یوې غونډې په ترڅ کې :

مونږ له اسلامی حکومت سره دسیاهیانو یه توګه ولاړیو

منډا - دزمري ۳ مه :
دتیري یکشنبي په ورځ پیښوراته څیرمه دمنډایه کمپ کې ګڼ شمیر علماوو ، جهادي قوماندانانو ، روښنفکرانو اومهاجرینوغونډه وکړه . غونډه دقرآن عظیم الشان دځومبارکوآیتونو په تلاوت پیل شوه . په پیل کې مولوي حضرت خان ،غلام سرور «حضرت یار» ، ملامحمد ظاهرخان«ناصري» ، میرزامحمد «حقبین» ، حاجي عمرزي ، احمدزي ، حاجي

پاتې ۵، مخ ۵، ستون

له کابل نه یو لوړ رتبه راغلی هیئات :

په پکتیا او پکتیکا کی دیوی جګړی احتمال

طالبانودتابوت په سیمه کی شدیده ماتی وخوړه په اورګون ،خوست ځاځیواوخدرانو کی دمجاهدینواوولس حوصله په تنګیدوده

که طالبان دټولو دایل کولوروش پرینږدی ، له ناوړه عواقبو سره به مخامخ شي

له پکتیا او پکتیکا نه په نامعلوم لوری د وسایلوانتقال ، خلك حساس کړی دی

پیښور - دزمري درېمه :
پرون پیښورته له کابل نه ددولت یو لوړرتبه راغلي هیئات شهادت ته وویل چې وکه طالبان په خپل روش کې تجدیدنظرونکړي ، دمجاهدینو په مرکزونو باندې له تعرضونوڅخه لاس وانه خلي اوډټولو دایل کولو لاریپتږدي په پکتیا اوپکتیکا کې دیوي لوئي جګړې دپیلیدواحتمال دبزیات لوي کیږي اوله دې سره جوخت په لوګرکې دمجاهدینو قیام حتمي ښکاري . دوي زیاته کړه چې دري ورځې دمخه دپکتیکا ولایت دتابوت په سیمه کې مجاهدینو دطالبانو برید له ماتې سره مخامخ کړ او شدیدً ګوزارئي ورکړ .
دوي وویل چې « طالبان باید دادرك کړي چې نوراوضاع بدله ده اوپخواني خوبونه دي نه ویني . دطالبانوروستي حملي دهغوي په

پاتې ۵، مخ ۲، ستون

دمحاذ داجرائیه شوری غړی عبدالغفور«خرم»

«پولی تورم» علت نه دی ،معلول دی ، اصلاً باید علت اوبنیادونو ته توجه وشی

ترڅو چی «کار» ،«تولید» اوصادرات رامنځته نشي دتورم دله منځه وړلو لپاره نوری ټولی هڅی بی تاثیره دی

مشکل یواځی دا نه دی چی متعددی مراجع افغانی چاپوی ، داهم مسئله ده چی که یوه مرجع یی چاپوی ، هغه څومره پشتوانه ورته لری او څومره بین المللی معیارونه اوملی تقاضا وی مراعات کوی

پیښور - دزمري درېمه :
دافغانستان دملي اسلامي محاذ داجرائیه شوري غړي او دهیواد پخواني ملي سوداګر عبدالغفور«خرم» له شهادت سره په مرکه کې وویل: چې « پولي تورم زموږ دملت یوه دردوونکي ستونزه ده خوداباید واضح شي چې داستونزه علت نه ده بلکې معلول ده . اواصلاً نورعوامل دي چې پولي تورم ئې رامنځ ته کړي. ترڅوچي هغه عوامل له منځه ولاړنشي ،داستونزه له منځه نشي تلاي، داعوامل دکارنه موجودیت دي، دتولید اوصادراتونشتوالي دي او دهیواد دټولو اقتصادي بنسټونوویجاړتیاده ».
«خرم » زیاته کړه «او ترڅوچي کار اوتولیدنه وي رامنځ ته شوي متکر حاصلات نه وي ورکړي، او به څرونه، نه وي فعال شوي صادرات وشلوي، اوبهرني اسعاروته لاسنه نکړو، دپولي تورم دله منځه وړلو لپاره نوري ټولي لاري بي تاثیره دي او

پاتې ۵، مخ ۵، ستون

دطالبانو ویاند امیرخان «متقی » له بی بی سی سره په مرکه کی :

مونږ وخت په وخت نظامی مرکزونه تهدیدو او له یونسیف سره شخصی دشمنی نه لرو

دحکومت پرضد نوی جوړشوی ائتلاف له مونږ سره تماس نه دی نیولی

کندهار - دزمري ۳ مه :
دکابل پرښار باندې دواکسیناسیون دکمپاین په دوهمه مرحله طالبانو دتوغندیودزي کړي چې دیونیسف دفترونوته یې کي تاوان رسیدلي دي . دهغې راکټي حملي په اړه طالبانو داطلاعاتو مسئول امیرخان «متقي» بي بي سي ته دمرکي په ترڅ کې وویل : مونږ دکابل دمظلومو ښاریانوسره یادیونیسف سره کومه شخصي دښمني نه لرو. مونږ ددې لپاره چې دریاني اداره داسلامي نظام دحاکمیت په مخکې پرلته ده نووخت په وخت موږحقوي نظامي مراکز ترتهدیدلاندې نیولي دي . البته په ملکي ځایونوباندي اودموسساتوپرځایونو باندې

پاتې ٤، مخ ٦، ستون

اختلافات میان مردم شینواری وسرشاهی روبه افزایش است

پشاور - ۳ اسد :
اختلافات میان دوقبیله ننګرهار مستقر درمنطقه نزدیك به سرحدات پاکستان که

بقیه درصفحه ٤، ستون ٤

نصیرالله بابر وزیرداخله پاکستان حین سخنرانی درمجلس سنای پاکستان :

(۱۳۷) تن دهشت افګن وتخریب کار افغان رادستګیر نمودیم

مسئولیت تمام اعمال تخریب کارانه بشمول حادثه انفجار درمیدان هوایی لاهوررا می پذیریم

اسلام آباد - ۳ اسد :
جنرال متقاعد نصیرالله بابروزیرداخله پاکستان گفته است که حکومت دو روز قبل به تعداد ۱۳۷ نفر تخریب کار افغان رادستگیرنموده است.
طبق گزارش روزنامه جنگ چاپ راولپندي پاکستان وي که هنگام بحث پیرامون حادثه انفجاراخیرپ درشهر

بقیه درصفحه ۱، ستون ٤

دننګرهار والی حاجی عبدالقدیر چی له مسکونه مستقیماً جرمنی ته تللی هلته یی له بی بی سره سره دکړی مرکی متن :

مونږ نوی ائتلاف یاجبهه نه ده جوړه کړی ، دایوتفاهم ؤ

دتاشکند په غونده کی نه مشرتاکل شوی او نه په مشر باندی کومه خبره شوی ده

ننګرهار - دزمري ۳ مه :
یوه اوني وړاندې دملي اسلامي محاذ مشر پیرسیداحمد «ګیلاني» دبي مرکې په ترڅ کې وویل چې دځلوروتنظیمونو اودننګرهارد جهادي شورالخوانه په ګډه یوه نوي سیاسي نظامي شورا پرانیستل شوې ده . داسې ښکاري چې دننګرهارد شورادریځ دپیرګیلاني له دریځ سره توپیرلري.
په دې اړه دننګرهار دجهادي شورا رئیس اووالي حاجي عبدالقدیر تیره شپه دبي بي سي راډیوسره دیوې مرکې په ترڅ کې ددې پوښتني چې دتاشکند ۲۵ تیتې دغونډې هدف څه ؤ وویل هغه غونډه چې موږپه ۲۵ دسرطان دازبکستان دتاشکند په ښارکي دایره کړي وه دهغې اصلي هدف همدادي . چې مونږ دروانوستونزوحل په مشترك ډول سره په غیرله کوم تعصب اوانحصار خپل دمملکت مشکلات په پوځل اواخیرځل لپاره په ګډه حل کړو .
پوښتنه : حاجي صاحب ! داچي تاسوقاطع راته ووایي، اوپریکړي دول یعني چې ائتلاف یااتحاد نه دي شوي عملاً ؟
ځواب : مااوویل دغه یوتفاهم ؤ که داجبهه اتحاد کیږي دغه ټولي دخپلي ډلي چې په دې جنګ کې دخپلي دي ددوي سره به هم تفاهم کیږي، لکه هغه تنظیمونه یاهغه شخصیتونه چې بې طرفه دي مثال لکه مولوي صاحب خالص یامولوي محمد نبي یانورخلك دافغانستان نوریوه خلك چې په داخل دافغانستان یاخارج دافغانستان کې دي .

پاتې ۵، مخ ۵، ستون

کولمبو: به تعقیب اقدامات شدید امنیتی ، پولیس سریلانکا به بازرسی وسایط نقلیه پرداخته است . این اقدامات همزمان باحملات وسیع گوریلایی ببرهای تامیل روی دست گرفته شده گفته می شود درحملات تامیلی ها به پایگاه های اردوی سریلانکا صدها نفر کشته شده است. تشدید اقدامات امنیتی درکولمبو به مناسبت سیزدهمین سالروز تعرض شورشیان اتخاذ شده است . به تعقیب حمله مذکور تحرکات ضد تامیلی آغازشد که درنتیجه (۶۰۰) نفرتامیلی کشته شدند.

خبرتیا

دتعرض په نامه کتاب دروسی لیکوالانو «دمیتری ګایی » او« واسیلی سنیګروف» له خوا لیکل شوی دی اود۱۹۷۹ کال له دسمبر څخه د۱۹۸۹ کال دفبروری ترمیاشتی پوری دافغانستان ، زموږ دګران هیواد دتراژیدی لویه برخه پکی بیان شوی ده .
دنوموړی کتاب ژباړه سر له ننه په منظمه توګه په شهادت کی خپریږی .

صحبت رئیسهٔ موسسهٔ عالی نسوان بانمایندهٔ روزنامهٔ شهادت

ساعت ده قبل ازظهربودکه به موسسه عالي نسوان رفتم ، چون درهمین اثنا رئیسه موسسه تشریف نداشت تصمیم گرفتم که ازبعضي شعبات موسسه گزارشي تهیه نمایم بعدازتهیه گزارش به طرف ریاست موسسه مذکور به وساطت رئیس یك بخش که متاسفانه اسمش رافراموش کردم رفتم، درسکرتریت انتظار کشیدم که بعدازیك وقفه کوچك به داخل

محترمه قدیریه «یزدان پرست »

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون : ٢٥٦٣٧٨٩
آدرس پستی : ١٠٣٦ یونیورستی تاون -پشاور

د «افغاني» دبیي غورځیدل

په تیرو دوو، دریو ورځـو کي «افغاني» په خوراحیرانوونکي بڼه راوغورځیدله، حیرانوونکي په دي معني چي یوخودادیر وخت په دومره لوي ټوپ نه وه رالویدلي اوبل ئي غورځیدل له کومي مشخصي نوي سیاسي پیښي او بدلون سره په ښکاره ډول په ارتباط کي نه و .

تقریباً یوه کال ته نږدي موده وشوه چي «افغاني» په دولت برسیره دځینونورو طرفونوله خوا هم چاپیږي، او په همدي وجه دبانکنوټونو دچاپ په کیفیت کي هم ځرگندتوپیرلیدل کیږي .

ځیني په دي نظردي چي په دي وروستیوکي بازارته په یوه لوي مقدارافغاني ورواندي شوي دي، اوله همدي امله ئي بیه راوغورځیده .

همدارنگه دي باره کي دحاجي قدیرله خوا دافغانیو دچاپولو دهغې افشاکیدل هم بې تاثیره نه بولي او په دي دواړو علاوه مهم شي داگڼي چي دولت دبیلابیلو مراجعو له خوا هم دچاپیدو په وړاندي ډیره شدیده ناراحتي اوغوسه وښوده اودي کارد «افغاني» دارزښت پـه برخه کي تشویش اواضطراب راولاړکړ .

په هرحال دخرم صاحب دنظریه تائید داټول روښانه عـوامل دي، ترڅوچي بنیادي عواملوته توجه ونشي، دهـیواد اقتصادي، ژوند نورمال حال تــه ولانږشي، اقتصادي بنیادونه مضـبوط نشـي، نودا بدمرغي په همداسي روانه وي .

اودامقصد له دي پرته په بله هیڅ توگه نشي پوره کیداي چي ترڅوهیواد بحران په اساسي اوکلي ډول نه وي حل شوي، سوله نه وي تأمین شـوي، تــول متعدد حاکمیتواوانارشیستي، سیاسي، اداري موجودیتونه په یوه ملي اوقانوني حاکمیت کي نه وي رانغښتل شوي .

ترهغې چي داهدف تحقق نه وي موندلي، دنورو ډیرو بدمرغیو ترڅنگ دپولي تـــورم تاوره فاجعه هم هره لحظه زمونږ ددربدره ملت په ژوند دقیامت عذاب تیروي.

په همدي وجه اسلامي دولـت او حکومت لـه یوه لوي چلینج سره مخامخ دي ، هیله ده چي په فروعاتوکي له غرقیدونه ځانونه وباسي، په جدیت سـره ، پـــه صداقت سـره ، اوپه قوي ارادي اولوړنیت سره دیوه اساسي بدلون اوبنیادي ژغورني په هڅه کي شي .

دطالبانو دویندوی دفاع !!

تیرماښام نړیوالواژانسونوپه کابل کـي دیونیسف ددفتر خوانه دطالبانو دتوغندیودلگیدو رپوټ ورکړ .

داخبره طالبانوته یوه بله شدیـده ضـربه شـوه ، د هغوي په تولوشعارونوئي بوځل بیا دبطلان کرښه راکش کره ، دهغوي هویت ئي بوځل بیا ترسوالیه علامولاندي راووست ، اوبیوواري بیائي وښوده چي طالبان دسولي لپاره ،د هیواد دبحران دحل لپاره او دملت دنجات لپاره هیڅ اجندا نلري، دهیڅ معقول منطق خاوندان نـه دي اوهیڅ رازطرحه اومتعالي هدف وورسره نشته .

موږله طالبانونه پوښتنه کوو چي نور به کوم دلیل پاتي وي چي ملت تاسي جگړه ماروونه بولي، ملت تاسي یوجنگي ماشین ونه گڼي، ملت په دي یقین ونه نکړي چي تاسي یواځي دخپلو جنگي اهدافولپاره دیرمقدس شعـارونـه او دیرپاك عنوانونه وکارول اوناوړه جفاووړسره وکره؟

ددي خبري یادونـه هم ضروري گڼو چـي لـه بي بي سي سره په مرکه کي چي د«یونیسف» ددفترخواته دخپلوتوغندیو دلگیدو په باره کي کومه «توجیه!» او«دفاعیه» وراندي کـره، هغه ډیره غموونکي وه . حتماً ئي هرباحساسه افغان په دي ژورسوچ کـي غورځاوه چي په هیواد ئي څومره درنده بدبختي راغلي ده، څومره مظلوم واقع دي، څنگه ئي هرکس اوناکس دقیادت تیکداري اوانحصارته دملاترلوجرئت کړي اوبالاخره څه ډول ئي له هیواد نه «سویه» ،«منطق» او «شعور» په کوچیدو دي .....!!

سفراخیروگردش درشهرجنگ زده کابل

زمان

طبق معمول برای سفر به افغانستان همیشه افراد خود را قبلا آماده کرده مقدارکافی لباس و وسایل نظافت شخصی و دارو های لازمه را جهت مقابله با بیماریهایی مناطق جنگ زده بهمراه خود می برند . ولی از آنجایی که سفرصدراعظم دولت اسلامی افغانستان برادر مجاهد انجینرحکمتیار به کابل ناگهانی اعلام شد به گروه روزنامه نگاران اطلاع داده شد تا خود را به کابل رسانده تا در مراسم تحلیف حکم صدارت عظمی حضور یابند ، گزارشها وتحلیلهای خود را برشته تحریر در آورند . نگارنده مقاله نیز بدون آمادگی قبلی بهمراه گروه تبلیغات با عجله خودرا بکاروان صدراعظم رساندم تاجریانات را ثبت وضبط نموده درموقع مناسب تحلیلهای لازم درباره وقایع مهم این سفر دراختیار خوانندگان محترم قراردهم.

این سفر که تقریباً یکماه بطول انجامید، سفری است تاریخی، که در باره آن کتاب مفصلی باید نوشت که ازگنجایش این مقاله خارج است آنچه دراین مقاله بآن اشاره می شود امید به آینده درخشان افغانستان است که ازلابلای جریانات وحرکات اجتماعی مردم ، برخورد آنان با قضایاو مشکلات روزمره زندگی درحال جنگ بذهن هرانسان کنجکاو وجامعه شناس خطورمیکند که شاید کمترافراد عادی بتوانند آنهارادرک کرده وبآن توجه نمایند وطبیعتاً قضاوتها وبرداشتها وموضع گیري هاي این گونه اشخاصیکانه از جامعه افغانستان،ریشه هاي دینی ، تاریخی ، اجتماعی سیاسی ملت افغان برده و درنهایت نتایج مطلوبی بدست نخواهند آورد و درهدف خود شکست خواهندخورد. بهرحال اولین چیزی که دراین سفر بچشم میخورد سهولت مرزتورخم ورفتارمقامات انتظامی پاکستان بامهاجرین افغان بود که بکلی با گذشته تفاوت بسیارداشت چه در رفتن وچه در بر گشتن دروازه ورودی بازبود مردم براحتی آمدو رفت میکردند.

اگرتلاشی و یا پرس وسوالی بود خیلی مختصر و بااحترام . معلوم بود که سیاست دولت پاکستان تغیرکرده و با افغان بعنوان بیگانه برخورد نمیکند دراین سفربجای اشک غم اشك شوق بهنگام عبور ازتورخم جاری میشد که بالاخره زاری ودعای مخلصانه مجاهدین افغان مستجاب شد و ملت افغان توانست باجریان صلح اخیر هویت خود راحفظ کرده وبحقوق انسانی خود برسد و به راحتی ازمرزتورخم رفت و آمد کند بالاخره بعد از داخل شدن به افغانستان وحرکت کردن موترها ازسمت چپ بسمت راست یکباره همه چیزتغیر میکند . اگرکسی به کشورهای اروپا ویا امریکا و یابعضی ازکشورهای عربی واسلامی سفر کرده باشد آثارصنعت وتکنیك درهمه جاودرتمام شئون زندگی آشکار وهویداست . بخصوص در اروپا و امریکا همه چیز اتوماتیك وکامپیوتری است . ازتشناب عمومی در ایستگاههای قطارو مراکزشهرهاگرفته تا غسل خانه ها وحمام ها ، اتوبوسها و سیگارفروشی ها شرینی فروشی ها ، پمپهای تیل ودیزل ولباس شوئي ها کالا شویی ها، پله ها وزینه های برقی خانه های چند منزله تا راهروها وزینه های برقی وپلها ی هوایی چهارراه های بزرگ شهری همه اتوماتیك وکامپیوتر تا وسایل جنگی وموشکهای فضا پیما و قرارگاهها وقوماندانی های فضـایی و جنگ ستارگان همه چیزاتوماتیك وکامپیوتری است وخلاصه آنقدر مردم غرق در تکنیك و وسایل کمپیوتری هستند که برای تنوع وآرامش خاطر درمهمانی ها رحلهای لوکس و گران قیمت برسر میزنان چراغهای برقی که برق آن چشم انسان را خیره میکند خاموش کرده وشمع روشن میکنند که درسایه نورشمع چند لحظه ای دور از زندگی خشن تکنیکی و ماشینی . اتوماتیك وکامپیوتری درحالت زندگی طبیعی غذا خورده ازمجالست ووقت گذرانی در حالت غیر ماشینی ازخوردن و وقت گذراندن خود لذت بیشتری ببرندو خستگی روزانه زندگی بی عاطفه وبی رحم ماشینی وفرهنگ آنرا فراموش کنند که تمام جنایتها وبیعدالتی ها و کشتار دسته جمعی انسانها ازناحیه همین تکنیك وبمبهای تخریب وسیع وهمین راکتها و وسایل کمپیوتری است که علم بی فرهنگ وبی تربیت انسانی دراختیار افراد بشرنهاده و بشر را از حالت انسانی خو دمسخ نموده و به حالت پست تراز حیوان رسانده که «اولیك کالانعام بل هم اضل » آری یکی ازمشکلاتی که امروزه جوامع صنعتی ومترقی جهان باآن روبروست ، حس صنعت وتکنیك زد گی است چرا که در روابط اجتماعی جامعه ماشینی عاطفه و انسانیت محلی از اعراب نداشته و مردود است وهمین امراست که خانواده، که اساس و بنیان هرجامعه ای است متلاشی میگرده ، پدرنسبت به فرزند محبت ندارد ، فرزند نسبت به مادر محبت ندارد ،برادر ازخواهر خود بیگانه است و اساساً کمترکسی پیدا می شود که ازدواج کرده و خانواده تشکیل بدهد وکانون پرمهرومحبت پدرو مادری و برادروخواهری بوجود بیاورد. هرمرد و زنی مثل ماشین هرکدام جداجدا درکارخانه کارکرده . غذایش ازماشین اتوماتیك ، کالاو لباس اش با ماشین شسته می شود ، خریدش ازماشین است درهرکاری باماشین سروکاردارد اگرانسانی درخانه اش مریض شود وتنها بمیرد وجنازه اش متعفن شود کسی از او پرسان نمیکند که زنده ای یا مرده.اکثر مردم بصورت تنها زندگی کرده و برای اینکه از رنج تنهایی نجات یابند وهیچ می داشته باشند که باوعاطفه داده محبت کنند ازاو محبت ببینند سگی وحیوان دیگری درخانه نگه داشته آنرا غذا داده به گردش مي برند که قدری عاطفه انسانی خود را ارضاء کرده متقابلاً از کرنش و وفای سگ نیز کمی لذت ببرند . بهرحال درافغانستان برعکس ، چیزی که نظرهرتازه وارد را جلب میکند زندگی ساده وبدوی وطبیعی ملت افغان است درزندگی جامعه افغانی اثری از آثار تکنیك وصنعت نیست ، خانه هـای گلی باچند چوب وحصیرساده ، نان و غذا پختن باچوب وخاشاك ، چاههای آب که بادست وریسمان ازآن آب می کشند استفاده ازشمع و باچراغهای نفتی و یا چراغهایی که باچربی حیوانی روشن می شود وبالاخره میتوان گفت که بعضی ها که کوچی هستند حتی ازخانه گلی نیزاستفاده نمیکنند وسراسرسال را درخیمه ها وچادرها وکوچ کردن از اینجا به آنجا میگذرانند. بعبارت دیگرزندگی مردم در افغانستان کاملاً طبیعی بوده وشباهت به زندگي بشر در دورانهای اولیه تاریخ دارد . تنها چیزی که دراین سفر جلب نظرمی کرد پمپ های دستی بود که موسسات خیریه جهانی درمساجد وبعضی محله ها برسرچاهها نصب کرده بودند که آب آشامیدني مردم سالمترشده ازبیماریهاي مختلف محفوظ باشد. بقیه جاهاووسایل زندگي مثل گذشته بود، اثري ازوسایل ترقي وتلفن وسایروسایل اتوماتیك وماشیني که درغرب وکشورهاي اروپایي مرسوم است نبود ، باغروب آفتاب همه جا تاریك مي شد. بعضي ازشهرها که قبل ازجنگ برق ضعیفي داشتند نیز بخاطر جنگ ارتباط آنها با مراکز تولید برق وبندهاي آب قطع شده درتاریکي بسرمي بردند، فقط بعضي ازمناطق که نزدیك بندهاي آب بودند برق مختصري داشتند که ازآب وتوربین هاي آبي گرفته شده بود،گاه وبیگاه صداي مرمي سلاح ثقیله ووافعه هوایگرش میرسید.

چیزي که خیلي مشهوربود راکتهایي بود که ازطرف گروه طالبان فرستاده مي شد واکثراً به مناطق مسکوني وغیرنظامي اصابت میکرد ومردم بیدفاع راشهید ومجروح مي نمود. اگرچه بارهاسخنگوي طالبـان درمصاحبه باخبرنگار بي بي سي ودیگران راکت باران شهروکشتن مردم بیگناه راتکذیب میکرد واظهارمیداشت که دولت کابل براي بدنام کردن طالبان باراکت مردم رامیکشد وطالبان رامتهم میکند، وطبیعتاً درذهن هرشنونده اي شك ایجاد میکنـد که درسیاست ازاینگونه نیرنگهااتفاق میافتد و احتمال دارد طالبان صـادق باشند وهمانگونه که ادعا مکنند تحریکشان اسلامي است وهیچ انسان را بدون حکم وجوازشرعي نمي کشند، ممکن است راکت باران شهرکارخود دولت کابل باشد وطالبان مقصر نیستند وازاین اتهام مبري هستند، ولي متأسفانه در روز ورود صدراعـظم دولت اسـلامي افغانسـتان به کـابل برادر انجنیرحکمتیار که مهمانان خارجي نیز دعوت شده بودند. گروه طالبان اعلام کردندکه محل برگزاري مراسم تحلیف حکم صدارت عظمي رابراکت خواهند زد و ازمهمانان خارج خواستند که به کابل نروند که جان شان درخطر خواهد بود. اتفاقاً طالـبان دراین ادعاي خود صادق بوده بهنـگام ورود صدراعظم دولت اسلامي افغانـستان سه بارشهرکابل واطراف محل برگزاري مراسم را راکت باران کردند که دراثر آن بیش ازدوصدنفرازمردم بیگناه کابل شهید ومجروح گردیدند . یکي ازراکتها نزدیك درب ورودي هوتل انترکانتیننتال اصابت کرد جائي که همه مهمانان خارجي وخبرنگاران روزنامه نگاران حضورداشتند؛که براي نگارنده مقاله ثابت شد که طالبان دراراده خود جدي هستند وقراردارندکه برنامـه صلح وتفاهـمات بین الافغاني رابرهم بزنند . ضمناً تاآن زمان خطرراکت آنچنان محـسوس نبود، ولي ازآن زمان به بعد همیشه این تصور بودکه مباداراکتي بیاید وهمه اطرافیان راطعمه انفجارخودسازد . بناءً باید بهنگام گردش در شهراحتیاط کرد وکمترداخل شهرگشت وگذارنمود ، بخصوص اینکه راکت درجاهاي مختلف اصابت میکرد ، گاهي به موتر حامل مسافرین ، گاهي به مکتب ، که یکباریه یك تاکسي وسرنشینان آن اصابت کرد، بهرحال این احتمال بود که درهر نقطه اي روز باشب راکت بیاید وعده اي شهید ومجروح شوند .

کساني که دوره هاي کماندویي ونظامي دیده اند میدانند که درمناطق جنگي که احتمال بماران ویاراکت باران است، باید بااحتیاط حرکت کرد وحالت آماده باشي داشت که چنانچه شنیدن آوازهاي مخصوص راکت که چند ثانیه قبل ازاصابت بگوش میرسد فوراً خودرا برروي زمین انداخته اززمین ویانال ویا دیواروپاازپناهگاههاي خاصي که درچنین مراقعي تعیین شده استفاده کرد وحتي المقدورخودرا ازترکش وچره هاي راکت که بصورت خاصي منتشرمي شود حفظ نمود وبجز ضرورتهاي اجباري کمترازپناهگاه وجاهاي امن خارج شد وازاین قبیل احتیاطهاي امنیتي که درحالتهاي جنگ معمول است که معلوم است حالت اضـــطراري است وعادي نیست دریك جمله حالت جنگي ازهرطرف معلوم است که همه چیزغیرعادي است دکانها بسته اند مردم یا مامورین بسرعت ازاین پناهگاه، خارج شده بااحتیاط به پناهگاه، دگري میروند؛درمسـجد ویامدرسه یاجایي تجمع نمي کنند،مترهارا کنار هم ایستادنمي کنند ووو .... که تلفات رابهنگام سقوط راکت ویب به حداقل برسانند، اینها همه تعلیمات جنگي است که درحالت جنگ بمردم و نیروهاي رزمنده حاضردرصحنه میدهند .

درشهرکابل باوجود راکت بارانهاي روزانه بخصوص درهفته گذشته که درطول هفته نقاط مسکوني ومحل تجمع مردم یعني بازارهاي آرد وروغن ویامارکیت هاي مرکز شهرمرتباً زیرآتش راکتهاي طالبان قرارداشت آنهم ساعتهاي ۱۱ تا ۱۲ که بیشترین رفت وآمد دراین وقت انجام مي شود وهمه روزه عده اي شهیدومجروح مي شدند، بااینهم زندگي شهري مردم حالت کاملاً عادي داشت . بجز منطقه غربي وجنوب غربي که بکـلي ویران شده وخانه هابصورت اسکلتي ازدیوارهاوپایه هاي خراب درآمده است ونزدیکترین نقطه به خط اول جنگ باطالبان است یعني فقط چند کیلومترتاموضع طالبان فاصله دارد وخالي ازسکنه است ، بقیه نقاط شهردکانها وبازارها بازموترها، میني بوسها، تاکسي ها ولاري ها بحرکت عادي خود ادامه میدهند؛ مردم درکوچه هاوبازارها مشغول گشت وگذارند احیاناً به هوتل هاباچاپخانه ها وبادکانهاي آب میوه رفته شیرویخ وترشابه میخورند گاریهاوفروشنده هاي سبارمیوه وسبزي وکالا هاي زنانه خیابانهاراپرکرده اند، مرد وزن پیروجوان ،دخترها وپسرهاي جوان درخیابانها مشغول رفت وآمد وخریدوفروش اند، کسي فکرنمیکند که الآن ممکن است راکت بیاید وبارها درهمین نقطه هاآمده ، وعده اي شهیدومجروح شده اند ، باتمام این احوال هیچ چیزدررفتارمردم تغییرنکرده است گویا اصلاً جنگي نیست وراکتي نخواهد آمد بخصوص دخترهاوزنهاي جوان که بالباسهاي آخرین مود آرایش وفیشن افغاني خود نشان میدهندکه حالت غم وغصه وتشویش درچهره هاي آنان وجوانانی که باآنها نگاههاي خریداري میکنند اصـلاً وجودندارد. باخیال راحت ازجنسهاي عرضه شده درخیابانها بازدید کرده واحیاناً چیزي مي خرند، خیلي باتأني وآرامش راه مي روند اصلاً حالت غیرعادي ویاترس یاوحشت ویاحالت آماده باش براي رفتن به پناهگاه وغیره رانداشتند. گاه گاهي موترعروس درسرك ها ظاهرمي شدکه باگل تزئین شده بود ، موتر پیکاپ باداتسن نیز ازپیش مشغول فیلم برداري از بردن عروس بود، چند باردرهوتل اقامت روزنامه نگاران وشخصیتهاي سیاسي ومهمانان خارجي درسالون مخصوص مراســم عروسي را برقرارکردند . مهمانهاواقرباوابستگان عروس ودااماد بالباسهاي مخصوص مهماني وآرایشهاي خاص زنان افغاني به مجلس حاضرمي شدند؛ گویا اصلاً دراین شهرخبري ازجنگ وراکت نیست . یك محصل طب میگفت مادوهزارسال است که درحالت جنگیم . یك پیرمرد افغان ریش سفید مي گفت: ماافغان هستیم ازجنگ ومرگ نمي ترسیم اگرخدا بخواهد مازنده مي مانیم، او اجل ووقت معین براي هرکسي مقرر فرموده است ، هرکس وقتش پوره وتمام شده باشد مي میرد اگرتمام نشده باشد مي ماند .

دیگري میگفت :

گرنگه دارمن آنست که من میدانم
شیشه را دربغل سنگ نگه مي دارد

درقرآن کریم آمده است سوره آل عمران «ماکان لنفس أن تموت الا باذن الله کتاباً موجلاً»

هیچکس بدون اذن خداي تعال نمي میرد وبراي هرکس وقت معیـني است،درکتابهاي علوم دیني درابتدا ی دروس ادبیات وصرف ونحووتجوید قرآن نوشته است « اول العلم معرفة الجباروآخرالعلم تفویض الأمرالیه » یعني اینکه اول علم شناختن خداوند جبار است که همه چیزراومرگ وزندگي را مقدر فرموده است وهمه باراده اوست وآخرعلم سپردن همه کارها بخداوتوکل باوست . این عقیده وایمان هرفرد ملت افغان از زن ومرد وپیروجوان است که توحید کامل است واساس اعتقاد است،چه بسا کساني که ظاهراً خیلي متدین وظاهرالصلوة باشند ولي درقلب واعتقاد خود آن چنان ایمان قوي بخداي جبار نداشته وبیشتر ازخدا بخود ودارایي وقوم وپادشاهي و زر و زور خود اعتماد دارند تابخداي خالق خلق !! که این خود بحث مفصلي است درعلم کلام واصول عقاید .

بامقایسه زندگي ملت افغان درجنگ باسایرملتها که چند صباحي حالت جنگي درکشورشان برقراربوده این نکته کاملاً روشن است «درهرشهري که خطرراکت باران ویابماران احساس مي شد مردم آن شهر راخالي کرده وبه نقاط دیگري پناه مي بردند ویاجزنیروهاي مسلح کـه درسنگرها وپناهگاههاي محفوظي بسرمي بردند کسي درشهرنمي ماند، این توکل افغانها وایمان شان به تقدیرالهي است که آنان راشجاع وصبور درمقابل دشمنان دین وفرهنگ خود زنده نگه داشته است وهمانگونه که درتاریخ ملت افغان ثبت است افغانها زور پذیرنیستند و بازور ازصحنه بدرنمي روند ، درجنگ نکاح میکنند ، نطفه شان درجنگ منعقد مي شود، درعین جنگ زندگي عادي وسنتهاومهمانیها وسوداگریهاوخلاصه همه روابط اجتماعي وسنتهاي ملي وقومي ودیني خویش راحفظ کرده هرگزتحت تاثیر عوامل جنگ قرارنگرفته وهمچون کوههاي سرکش افغانستان درهمه بحرانها وجنگهاباسرکشي و زوور خود را ازمهلکه نجات داده وسربلند وسرافراز درصحنه جهاني قدعلم کرده وعرض اندام کرده ، وازفکر ومکتب وفرهنـگ خود دفاع نموده وباعث تحول وانکشاف درتاریخ وزندگي مردم جهاني شده اند .

برخلاف بعضي ازملتها که درجنگ هویت وفرهنگ خودرا ازدست داده ودرملتهاو فرهنگهاي غالب وسلطه گرذوب شده اند، افغانها درجنگ رشـدکرده، درجنگ زندگي خودراتأمین کرده ودرجنگ ازعقیده ودین خود دفاع کرده ودرجنگ تمدن خـود راحفظ نموده ودرجنگ کیان وهویت خودرا بجهان شناسانده است .

ازاعتقادوایمان وتوکل افغان به تقدیرالهي معلوم مي شودکه افغان فقط تسلیم خداست وجز خدابه هیچ چیزي هیچ قدرتي وبه هیچ ابرقدرتي تسلیم نمي شوند . هرچند دشمن و نیروي مخالف افغانها قوي ترباشد بهمان اندازه افغانها سرکش ترند واصولاً آب وهواي مناطق بلند وکوهستاني افغانستان سرکش پروراست. بناءً تنها عاملي که میتواند افغانهاي شجاع وسرکش رارام کندوآنهارابه نظم درآوردهمانا دین آنهاست، هیچ قانون ومقررات دیگري درافغانها نافذ نخواهدشد همینقدر که پاي دین بمیان آمد، همه تسلیم مي شوند، چیزي که نظیرش کمتردرسایر نقاط جهان است . درسیاري ازکشورهاي اسلامي زوور وفرهنگ سلطه مردم را ازاسلام دور کرده ویادین دگري اختیارکرده ویابکلي بي دین شده اند ' ولي افغانستان باوجود قرنها جنگ وکشمکش درتاریخ ازکشورهایي است که صددرصدمردم آن مسلمان هستند. ازنظرجامعه شناسي باید گفت افغانستان بالقوه بعنوان یك مرکز عقیدتي سیاسي درجهان تبارزمي کند وباتوجه به شکست فلسفه هاومکاتب فلسفي واجتماعي ماتریالیستي وسکولارستي اروپا وبخصوص شکست سوسیالیسیم علمي ونظام کمونستي دراتحاد شوروي بیروي آوردن به نظام کهنه وفرسوده کاپیتالیستي وسرمایه داري بازار آزاد که خودنیزیك نظام شکست خورده درکشورهاي اروپا وامریکا بحساب مي آید وباتوجه به دورماندن، ادیان ومذاهب اروپا ازمشکلات اجتماعي انسانها درجوامع جهاني ونداشتن جواب وچاره براي مشکلات نیازهاي روحي وجسمي افراد بشر وروي آوردن مردم جهان به اسلام بعنوان یك نظام فردي واجتماعي و سیاسي و دسته دسته گرویدن به اسلام دراروپا وامریکا وافریقا میرود تاافغانستان وملت افغان بعنوان یك ملت پیشتاز ورهبر'جهان رارهبري نموده وناظر عدالت اجتماعي ونظام الهي درجهان باشند .

بناءً بنابرعقیده و ایمان افغان که همه چیزرابخدا واگذارمیکند، این اراده خداست که میخواهد مستضعفترین مردم جهان که زندگي آنها حداقل ترین زندگي افراد بشر درجهان

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

آخره زمانه

میوند

زمانه آخره ده کـه نه خوبوخت به ضرور آخرشي ، وایي چي دقیامت نخښي په راڅرگندیدودي ، یایي هم ډیري علامي راڅرگندي شوي، دقیامت نخښي څه دي؟ زه لاماشوم وم چي یو ملادقیامت یوه نخښه دا گڼله چي یوغنم به په روپي شي. غنم لالمړي په انسان قیامت راکوز کړي اوبیا دقیامت په نخښوکي دهمدغه غنم قیمت یوه نخښه گڼل شوي ده اوس یقیناً چي غنم په روپي دي کیدي شي له روپي هم لوروي . مولوي صاحب خالص اخره زمانه په یوه شعرکي هغه گڼلي چي غله اوښان په پښه ووهي او رهبر نور رهبران په بده کړي .

هغه بله ورځ یوه ملاصاحب مسئله کوله چي په اخـره زمانه کي به شاعران ډیرشي د شعر ویلوشوق به عام شي اوکه یونیم داسي وي چي شعرنشي ویلي هغه به یي اوري، په تیپ به یي اوري اوداکاریه دومره عام شي چي په کور، په موټراوان په جیبونوکي به یي خلك ووسره گرځوي، داکارهم شوي دانخښـه هم راپرسیره شوي، په هرکورکي لـه یوه نه زیات تیپونه شته ، له دوبي اوعربستان نـه چي هر مسافر راځي تیپ راوړل یي حتمي دي اوس چي دکوټي ، تیرا، اوایران له مزدوري هم څوك راوگرځي نودخپلوتپلو ارتباو پرځاي بې تیپ داسي لومړني ضرورت گڼلي وي چي که دڅه دگټلو وي که نه دتیپ لپاره یې ضروري گڼي .

جاپان چي اوس هردول موټر جوړوي دتیپ یکي ضرورنصب وي واړه واړه تیپونه بیایي داستخباراتي او پولیسي مسائلو لپاره اختراع شوي وي خواوس یې ډیر ځوانان اوهغه چي ظاهراً دموسیقي مخالف دي هم په جیبونوکي گرځوي .

دشاعرانوسرشمیر نـه لانده شوي دانساني نفوسودکنترول لپاره په نړیواله سطحه کمپاین پـه لاراچول شوي اودخانداني منصوبه بندي پروگرام‌ته ترتطبیق لاندي دي. دلته ډیرشعرروته او وجیزي رامخي تـه شوي ، په پښتوکي داشعارباوجیزه چي :« وروکي خاندان، ژوندناسان » دنفوسوزیاتوالي څومره گواښ دي زه یي دقیق نشم ویلي خودومره گواښ اوخطرنه چي دقیامت نخښـه گڼل شوي وي .

خطرناکه زیره دشاعرانو دبرښت دي چي قیامت ووسـره تړلي دي وايي چي یودبریانگوال سري داسي ژ چـي هوایي سفریه یي نه کاوه ، چاورته وویل مرگ خپله نیته لري، بي اجله مرگ نشته اوچي وخت پوره شو هیڅري څوك تري نشي بچ کیدي .

دده ځواب داؤ چي داسمه خبره ده زه پري گروهمن یم خودالوتکي جنجال دادي که دپیلوټ اجل راغلي وي اوبه همدغه

حال دویلو لایق نه دي

شبهه کي بي وخت پوره وي زه به څـه کوم ؟

خبره دشاعرانو وه چي همدانیك مخلوق دقیامت دنخښي په توگه پیژندل شوي یاغوره شـوي دي . کیدي شي داځیني یـو اعزاز ویولي چي شاعر الله تعالي دقیامت دیوي نخښي لپاره غوره کړي اوداغوراوي ددغه مخلوق فضیلت دي . خولدئ سره هم دقیامت خبره دخلکولپاره بنه خبرندي، قیامت دمرگ اوپناکیدو معناده مرگ که څـه هم بټول حق گڼي اوخلاصي تري ناشوني دي خو دسلوکالو یوداهم له مرگه ویریږي بیا به دقیامت مرگ چي دټولو مرگ دي څنگه څوك زړه یورتوونکي نه گڼي .

دشاعرانوحد اوشمیرهم ندي تاکل شوي چي یوهیواد شایي څومره شاعران ولري، په سلوکي یي څوشاعران وي، سوپرپاور هیوادونه څومره ،مخ پرانکشاف هیوادونه څومره اوبیرته پاتي هیوادونـه څومره شاعرانوته ضرورت لري . دهغه ملاخبره چي دشاعرانودیربښت یي دقیامت نخښه گڼلي توضیح طلبه ده څکه چي په پکښتیا کي سندرغاړي هم شاعران گڼي .

په کابل راډیوکي موسیقي منع شوي . طالبان هم موسیقي حرامه گڼي اوکشرنه یي ماتوي، کیدي شي یو وجه یي داوي چي دادقیامت نخښه ده اوکوم شي چي نښه نه وي نخښه یي هم شه نه وي، دقیامت ویره عامه ده . داله ټولو سره وي ، دلته ددولت اوطالب توپیرختم دي .

په نوروژبوکي به دشاعرانو سرشمیرنه دقیامت دنخښي حدته رسیدلي وي اوکه نـه خـو پـه پښتوکي داسي ده چي تیارقیامت یـي راکوزکړیدي . پـه پښتو قیامت راپیت دي، داقیامت که دشاعرانو له لاسه دي که دهرچاله لاسه خواوس دغه قوم دقیامت په خونړي کومي کي دي، چـي دتباهي ، بربادي اونیستي ژرونه تیل وهل کیږي .

په پښتواوپښتنوقیامت راتیت دي څکه دهغه ملایه قول شاعران یې دومره ویرشوي چي له حدنه اوښتي چي نوریې په قیامت کي څه شك ندي پاتي . شك دایمان زیان وي اوپه یوه ثابت حقیقت باندي شك کول دایمان دزیان ویره پیداکوي .

وایي چي شاعران څه وایي عمل پري نه کوي، یعني شاعران بي عمله وي داعمل لکه دتصوارو اوسگرتوعمل ندي چي خلك پدغـي بي عـملي وو پاوي او که دځنوعمل په ریښتیا هم لکه دتصوارو اوسگرتودعمل غوندي وي نولدغـي عمل نه بي عملي ډیره ښه ده .

عاشقي سري مجنون کاندي رحمانه
گـه څوك په هوښیاري وځي له کروه

د «نااعلان شوی جګړی نامعلومی صفحی»

دځان لپاره دام

د «دمیتری ګایی» او «واسیلی سنیګروف» لیکنه — لومړی برخه — دخیبرژباړه

د۱۹۷۹ عیسوی کال دډسمبر میاشتی ته راګرځو.داده او همدا ده دلاس غځوني اومداخلی هغه ورځ پیل کیږي .کومه چی بـایـد دشلـمـی پـیـړی دټولنی تـری پـه کلیزو(جنتریو) کی په تور رنګ سره رنګ شی . پا افـغـانـسـتـان باندی دراتلونکی نظامی تعرض په اړه هغه وخت ډیر کم خلك خبرؤ، ځکه دا پلان په ډیر محرم ډول سره ساتل کیده.حتی دستردرستیز ځینی افسـران اوجنرالان دمداخلی په دی لویه پیمانه نظامی عملیاتو خبرنه وو ، تردی وخت پوری کریملین دنړیوالی ټولنی په وړاندی دخپل مخ دپاکیدو او په غرض په افغانستان باندی دخپلولښکرودتعرض لپاره دیوه نوم په پیداکولو فکر کاو . دکریملین واکداراتو دخپلو لښکرودپراخی حملی لپاره « دمحدودوقطعاتو یوه برخه » « دوسـتـانـه کـومـك » اود«انټرناسیونالستی دندی»ترعنوان لاندی نومونه غوره کړل ، وادوخت څخه وړاندی غوره کړی شوی نومونه دالس کاله زمـوږ دسیاست پوهانو ،ژورنالـسـتـانو اودیپلوماتانو په ژبو په لیکچرونو اوغونډوکی تکراریږي . دکریملین مشرانو دلښکرو دتعرض لپاره داسی وخت ټاکلی ؤ چی په ټول شوروی اتحاد کی دوګړودنفوس شمیر جریان درلود اوروسی منابعو په ډاګه کړه چی په شوروی اتحاد کی ۲۶۲ میلیونه او٤۳٦ زره وګړی ژوند کوی ، په اتحادی جـمـهـوریتـونوکی دلویومشـورتـی ارګانونولپاره ټاکنی روانی وی ، دهاسیکال امـوړسکی صګـسـتـرال دلویی لاری دجوړولواوازی را پورته شوی وی ،په کریملین کی دموجوده مشرانو اودانګلستان دهیئت تر منځ یولړ مهم توافقات له اوږدی موډی وروسته لاسلیك شول اوهمدغه شان په مسکوکی داولمپیادنړیوالو لوبولپاره پوره تیاری روانه وه. پدغی وخت شوروی اتحاد دپورته ذکر شویو پرابلمونودحل سره مخامخ ؤ، په دغه وخت کی هیچا تصورنه کاؤ اوته کومی داسی تیبی ،تبـاتی سکاره شـوی وُ،چی په یوه ګـاونډی ،خـپلواك اودوست هیواد باندی دی دیوه پراخ نظامی تعرض لپاره تیاری نیول شوی وی . هغه وخت دشوروی اتحاد په مطبوعاتو کی په دی اړه هیڅ نه په سترګو کیدل اونه په دی ارتباط کومه رسمی اعلامیه چاپ شوی وه ،ترڅو دشوروی اتحاد خلك یی تر انتقاد لاندی ونیسی اوخپل مشران دی ته اړ باسی چی دخپل هیواد اوځان په هکله فکر وکړی .

د۱۹۷۹ کال دډسمبر د میاشتی په ۲۳مه نیټه ده«پراودا» ورځپانه په یوه ډیوکی اوعلیحده عنوان کی د «بی ځایه زورازموینو» ترعنوان لاندی لیکی :

«په دی ورو ستیوختونوکی دلویدیځی نړی په تیره بیا دامریکا پروپاګندی وسایل په افغانستان کی دمداخلی اوازی خپروی اوداسی پروپاګند یی په لاراچولی دی چی شوروی اتحاد په افغانستان کی نظامی مداخله کوی ، دغه تبلیغات تردی حده رسیدلی دی چی ګنی دافغانستان خاوری ته دشوروی اتحاد پوځی قطعات لیږل شوی دی ،په دی اړه ټول شوی تبلیغات بی ځایه پروپاګند اوبیرچ درواغ دی .»

د «پراودا» په ورځپانه کی دغه خبر داسـی وخـت کـی چـاپـیـږی چـی دلښکرودتعرض اولیږلولپاره په شمار ساعتونه پاتی دی .

دهغه وخت دکریملین زمامدار «برژنف» دلښکرو دلیږلو دعلتونو په اړه په یوه مرکه کی وایی:«باید اجازه ورنکړله شی چی زمـوږ دهـیـواد په جنوبی پولوکی دامپریالستی نظامی بلاك په ګټه په افغانستان کی تغیرات راشی .»

دلښکرودپراخ تعرض نه وړاندی یوشمیرروسی مشاورین له کابل نه په بیړنی ډول مسکو ته غوښتل کیږي ،دغوښتل شویونظامی مشاورینو ځینی ددفاع وزیراوستینوف اوستر درستیز جنرالان دافغانستان دکورنی وضعی په اړه پوښتنی کوی .

دکابل نه یوتن غوښتل شوی مشاور جنرال زیلاتین مسکو ته خپل بیرنی تګ داسی بیانوی:

« په هغی ورځ ما دکابل په یوه نظامی پوهنتون کی دافغانستان داردو افسرانو سره لکچردرلود ، چې په ناڅاپی توګه دمخابری کوټی ته وغوښتل شوم ، ما دمخابری له لاری په مسکو کی دتورجنرال اشکورین سره خبری پیل کړی .»

دغه جنرال ماته وویل:« په دقت سره ماته غوږ ونیسه ، ستا لور دکمونست ګوند مرکزی کمیټی ته مراجعه کړیده چی غواړی له تاسو سره له نژدی نه وګوری ، داخبره دی له تا سره وی، ستا دلور غوښتنه منل شوی ده ،تاسو ته پکار ده چی نن دمسکو په لور پرواز وکړی .» ما په ځواب کی جنرال اشکورین ته وویل :« دمسکو الوتکه خو اوس له کابل نه الوتي ده اویل پرواز به دوه ورځی ور سته وی .»

جنرال وویل :«دا ستاکارنه دی، تاسوته په کار ده، چی دمازدیګر په شپږوبجو ځان دبګرام هوایی ډګر ته ورسوی چیرته چی به تاسوپسی الوتکه درشی.»

دخپلی لور دروغجـنـایـی حـالـت دپوهیدواومسکو ته دبیرني غوښتل کیدوپه اړه دلازیاتو معلوماتو دترلاسه کولو په خاطرسفارت ته لاړم ، دشوروی اتحاد سفیر تبیوف زما ټولی خبری واوریدي په ځواب کی یی راته وویل چی ده ته په دی اړه کوم معلومات لاس ته نه دی ورغلی ، بیامی په مسکو کی دجنرال اشکورین سره تیلفونی خبری وکړی ،په تلیفون کی می تری وپوښتل : «زما لور ژوندی ده ! »

جنرال وویل : « بلی ژوندی ده په ټولو خبرو به په مسکو کی پوه شی ،په هلیکوپترکی دبګرام هوایی ډګر ته لاړم ،الوتکه راورسیده اودبګرام نه دتاشکند په لوری والوته ، په تاشکند کی یوازی زما لپاره یوه L-18 ډوله الوتکه ولاړه وه اوله هغه ځایه می دمسکو په لوری سفر پیل کړ. دمسکو له هوایی ډګر نه راسا دستردرستیز دقرارګاه قومانډان جنرال ایپیشوف ته لاړم ،نوموړی سمدستی دافغانستان دحالاتو په باب له ماته پوښتنی پیل کړی ،یو ساعت موږوه په دوه خبری وکړی ،په خبروکی یی زما دلور دغوښتنی په اړه له ماسره هیڅ ونه ویل ،دافغانستان دحالاتوپه باب یی زما ټولی خبری لیکلی ،دخبروپه پای کی جنرال ایپیشوف ماته وویل:« زه اوس دمرکزی کمیټی جلسی ته ځم ، ته زما ترراتلوپوری دلته اوسه.»

دوخت نه په استفادی سره می خپلی لورته تلیفون وکړ . لورمی راته په تلیفون کی وویل : « زه بیخي روغ او جوړ یم » د لور له آوازه څخه پوه شوم چي دهغي حالت بیخي نورمال دي . په راتلونکي سحر زه بیا د ستر درستیز قرارګاه ته لاړم .

دقرارګاه نوکریوالي راته وویل « په تاسوپسی هرځـای لټـوي .» جنرال ایپیشوف ته لاړم هغه سمدستی زه ددفاع وزیر اوستینوف ته وروستم. زموږ دوږنګ سره سم هغه دجنرال اګریکوف سره دخپل کار له دفتر نه راووت .

اوستینوف ماته وویل: « ته ملګری اګریکوف ته ټوله کیسه وکړه ،کله چی زه بیرته راغلم بیا به ماته هم وکړی.»

لنډه داچی ددفاع وزیر اولوی درستیز تراوږده وخت پوری دافغانستان دحالاتو اودافغانستان داردودقطعاتو دموقعیت اووضع الجیش په باب زه وپوښتلم ،څنګه چی زما معلومات وو ماهماغسی په سیکاره ډول حالات ورته بیان کړل ، مادخپلو خبروپه ترڅ کی دغو پوځی مشرانو ته وویل : « ستونزی کمی نه دی،خو دافغانستان اردو په خپلو پښوولاړه اردوده اوپوره توانئدی لری.»

اوستینوف له ماته پوښتنه وکړه ،امین څوك دی؟

ما دهغه په ځواب کی وویل :«هغه ډیر ښه موسس جوړونکي اویوه قوی سیاسی څیره ده . » زما په خیال زما معلوماتو دیو شمیر مشاورینو اودیپلوماتانو له معلوماتو سره سیکاره توپیردرلود ،نوپه همدی خاطر اوستـینـوف یی لـه ځـنـډه وویـل :« دافغانستان دحالاتو په اړه ستاسو بیلابیلی نظریی دی ،موږ باید دلته تصمیم ونیسو .»

